## د څیړنیز فارم پیژندنه

د څېړنیزو فارمونو د رامنځ ته کېدو اصلي هدف د کرنیزو تولیداتو او حیواني محصولاتو د کمیت او کیفیت پراختیا او د معیشت ډاډمنتیا رامنځ ته کول دي.

پخوانی ترنک فارم او اوسنی د اناستو پوهنتون علمي او څېړنیر فارم د۱۳۴۵-۱۳۴۶د سروې له مخي ۵۳۲۷ جریبه مساحت لري، د خاوري ډول یې sandy loam ده.

په پخواني ترنک فارم کي د غلودانو اصلاح سوي تخم کرل کېدل، د تخم تر راټولو وروسته د هیواد نورو برخو ته د کرلو په موخه انتقال کېدل. د جگړو په جریان کي د پخواني ترنک فارم د تاسیساتو زیاته برخه ویجاړه سویده

د څېړنیزو فارمونو د رامنځ ته کېدو اصلي هدف د کرنیزو تولیداتو او حیواني محصولاتو د کمیت او کیفیت پراختیا او د معیشت ډاډمنتیا رامنځ ته کول دي.

په ۱۳۹۱ هجري شمسي کال د پخواني ترنک فارم ځمکه د زارعت وزارت له لوري د لوړو زده کړو وزارت ته په واک کي ورکړل. د لوړو زده کړو وزارت دغه ځمکه و اناستو پوهنتون ته د څېړني، تولید او ترویج په موخه وسپارل.

د اناستو پوهنتون د تاسیس څو کلونه وروسته د اوسني فارم د څېړنو ساحه مشخه، اداري شعبه او پرسونل یې دلته را انتقال سوه. چی د وخت په تېریدو سره یې په تشکیل کي تغیرات او ډېروالی را منځ ته سوه. فارم امریت مخکي د علمي معاونیت په تشکیل کي وه د ۱۴۰۲ کال د تشکیل له مخي د علمي مجلې او څېړنو په معاونیت پوري وتړل سوه.

## لرلید

د پوهنتون څېړنیز فارم آمریت په دې لټه کې دئ چې د کرنې او مالدارۍ په برخو کې یو داسې علمي او عملي چاپېریال رامنځته کړي چې د څیړنې او نوښت له لارې د پوهې پراختیا، په کرهڼه او مالدارۍ کې د ستونزو حل، او د ملي پرمختګ لپاره دوامداره اغېزمنې لارې چارې وړاندې کړي.

## رسالت

څېړنیز فارم امریت د استادانو او محصلینو د عملي څېړنو تر سره کولو ته وده ورکوي، د څیړنو بنسټیزو اسانتیاوو برابرولو او د تیوری پایلو د عملي کولو له لارې د ټولنې د پرمختګ لپاره رغنده ونډه ولوبوي.

## موخې

1. **د عملي علمي څېړنو ترویج:**
په پوهنتون کې د استادانو او محصلینو لپاره د عملي څېړنو په برخه کي اسانتیاوي را منځ ته کول.


۲. **د څېړنو لپاره اسانتیاوې برابرول:**

لابراتوار او فارم امریت د علمي کړنو او انالایز په برخه کي د څېړونکو سره د همکار په صفت دنده تر سره کوي.

۳. **د تکنالوژي معرفي کول:**

د کرهنې او مالدارۍ په برخه د نوي ماشینرۍ او تکنالوژي د معرفي کولو په برخه کي فارم امریت ستره دنده لري

## د څېړنیز فارم آمریت تشگیلاتي چارټ









SM
(3 t/ha)
REP-II